# خونړۍ توپان

ځومره سخت تیپي شوی چي د غرونه هم نړیږي
زما ګرانه وطنه د تاریخ دي پرتمونه هم نړیږي
د ارګو د شهیدانـو ویر ماتم لا ختم نه دی
چي په ټول وطن ژړا وه آوختونه هـم نړیږي
ټول ملت چي د قاسم په شهادت غمګین غمګین و
اوس دوښمن کرښي راباسي وحدتونه هم نړیږي
لوبغاړو شاه ځلمـو چي د بري توغونه راوړل
لورپه لـور د خوشالیو اتڼونه هم نړیـږي
چي د توری له شرنګا یي ځمکي غرونه لړزیدله
د کندهار او د هلمند ستر عظمتونه هـم نړیږي



کونړ ځاله د زمریانو ننګرهار کور د باتـورانو
د دي اتل تاتـوبی ګلکـځونه هـم نړیږي
ځو غله کمین کي ناست دي توطیي لري په سر کي
د لیونیو ببرسـرو لښـکرونه هـم نړیږي
په خوله سپکـي سپوری وایی اخته په غورو پرو
د ورونو ملیتونـو ستر ننګـونه هم نـړیږي
خونړۍ تـوپان افغـان ملـت ته ګواښي
آدرنی ککـری نشته تدبیرونه هـم نړیږي
د هـمت په تـوره ملا تـړی ځـوانانو
اکبري په وینو ژاړي ګنی سوبی ارزښتونه هم نړیږي

شاعر : بسم الله اکبري

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

## خونړۍ توپان

ځومره سخت تیپي شوی چي د غرونه هم نړیږي
زما ګرانه وطنه د تاریخ دي پرتمونه هم نړیږي
د ارګو د شهیدانـــــو ویر ماتم لا ختـــم نه دی
چي په ټول وطن ژړا وه آوختونه هـــم نړیږي
ټول ملت چي د قاسم په شهادت غمګین غمګین و
اوس دوښمن کرښي راباسي وحدتونه هم نړیږي
لوبغاړو شاه ځلمـــــو چي د بري توغونه راوړل
لـور په لـــور د خـــوشالیو اتڼونه هم نړیـــږي
چي د توری له شرنګا یي ځمکي غرونه لړزیدله
د کندهار او د هلمند ستر عظمتونه هــــم نړیږي
کونړ ځاله د زمریانو ننګرهار کور د باتـــــــورانو
د دي اتل تاتـــــوبی ګلکـــــځونه هــــم نړیږي
ځو غله کمین کي ناست دي توطیي لري په سر کي
د لیونیو ببرســــــــرو لښـــــکرونه هــــم نړیږي

په خوله سپکې سپوری وایی اخته په غورو پرو

د ورونو ملیتونو ستر ننګونه هم نړیږي

خونړی توپیان افغان ملت ته ګواښي

آ درنی ککړی نشته تدبیرونه هم نړیږي

د همت په توره ملا تړی ځوانانو

اکبري په وینو ژاړي ګنی سوبی ارزښتونه هم نړیږي

شاعر : بسم الله اکبري

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادرمسعود

۲۰۱۴-۰۷-۱۲

***




## د محبت سندره

زرې زرې مې زړه دی خو مې اوښکې نه تویېږي

که اوښکې تویومه نو اغیار پرې خوشحالېږي

توان د محبت او جذبو دواړه لرم زړه کې

نو ځکه مې احساس د پاکې مينې نه ځاريږي

زما دميني تول څوک په ډېرو کوی نه شي

را جمع که ټول غرونه کړي بيا هم پسې کمېږي

په بڼ کې د پښتو به بيا بلبلې په ګدا شي

قامي وحدت ګلونو غوټۍ کړي دي غوړيږي

غوړونه که اغيار خپل غوځوي نو دا يې وخت دی

زما د محبت سندره لا پسې جګېږي

دا ستوری د اسمان که څوک په کاڼو باندې ولي

په سر به يې دا کاڼي له اسمانه راوريږي

شاعر : ډاکتر کبير ستوری

ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

***